بسم الله الرحمن الرحيم

## کله به چې صحابه ملامت وو؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم به څه ویل؟

**(ژباړه)**

له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دي:

**«لَمْ يَكُنْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَّابًا وَلَا فَحَّاشًا وَلَا لَعَّانًا، كَانَ يَقُولُ لِأَحَدِنَا عِنْدَ الْمَعْتِبَةِ: مَا لَهُ تَرِبَ جَبِينُهُ»** (رواه بخاري في الادب)

*ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم، هېڅکله بد رد نه دي ویلي؛ کله به یې چې کوم یو ملامتاوه، ویل به یې؛ پر هغه څه شوي دي؟ تندی یې دې پر خاوره ولګېږي.*

**د حدیث توضیح**

دا دي ستاسو د مکرم پیغمبر صفات؛ هغه صفات چې الله سبحانه وتعالی یې له تاسو غواړي! کله چې یو مسلمان په دا ډول صفاتو عمل وکړي، د انسانیت مفهوم په کې څرګندېږي او د ښو اخلاقو، افکارو څښتن کېږي.

**اې محترمو مسلمانانو!**

نن څومره انسانان دغو پاکو اخلاقو ته اړتیا لري؟ چېرته دي غربي علما، مفکرین، سیاسیون او ولې چوپ دي؟ زموږ تاریخ له تربیتي، اخلاقي، فقهي، فکري چارو څخه ډک دی او ساری هم نه لري. مسلمانان پوره فرهنګ او تمدن لري، چې د قربانیو پایله یې ده. اې هغو کسانو، چې د پردیو د ابتکاراتو غوري کوئ او په داسې فرهنګ مو ځان تړلی، چې ابېز او داسې ناروغی دي پکې، چې په تاریخ کې ساری نه لري. پوه شئ! زموږ فرهنګ له ښو او پاکو کلمو څخه غني دی، **لکه: «بارك الله فيك، جزاك الله خيرا، السلام عليكم، و عليكم السلام، بسم الله، على بركة الله، رضي الله عنك، سامحك الله، سلمك الله، عافاك الله، ماشاء الله، رعاك الله، وغيرها الكثير الكثير»**

دا زموږ د دین او اسلامي فرهنګ ارزښتونه دي، چې د امت لپاره لوی ویاړ دي. نو اې مسلمانانو! د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تګلاره، د راشده خلافت تاسیس ته متې راونغاړئ، چې زېری یې هم ورکړی دی! یا الله! ځمکه د خلافت له لارې د اسلام په پلي کولو سره منوره کړې.! الهم آمین آمین آمین!

ژباړن: الهام پردیس